PASHTO

Office of the Commissioner General for Refugees and Stateless Persons

# د باسرپرست ماشوم لپاره لارښود چې د پناه غوښتنه کوي




.be

Towards a more integrated migration policy, made possible by the AMIF

Responsible publisher:
Dirk Van den Bulck,
Commissioner General for Refugees
and Stateless Persons

This brochure was published with the support of AMIF,
the European Asylum, Migration and Integration Fund.

It is available in Albanian, Arabic, Dari, Dutch,
English, French, Pashto and Russian.

These different language versions can be found on:

www.cgrs.be/en/publications

Version : May 2019

# محتويات


سلام 4

1

د بين المللی حمايت لپاره غوښتنه څه شی ده؟ 8

2

کړنلاره کوم پړاوونه لري؟ 10

څه ډول پريکړه؟ 11

3

پناه غوښتونکی څوک دی؟ 12

فرعی حمايت څه شی دی؟ 14

د يوه ماشوم په توګه په دی کړنلاره کی ستاسی حقوق کوم دي؟ 15

4

تاسو غواړئ خبرې وکړئ 16

کله چې غواړی خپل نظر څرګند کړی،آيا هميشه مرکې ته بلل کيږئ؟ 17

د لويی کميساری له مؤظف کارکوونکی سره مرکه 18

د لويی کميساری له مؤظف کارکوونکي سره ستاسو

خبري چرته ترسره کيږي؟ 20

کوم شيان تربحث لاندی نيول کيږي؟ 22

آيا لويه کميساری تل ستاسی له غوښتنی سره سمه پريکړه کوي؟ 22

د دوهمی مرکې امکان شتون لري 23

کيدی شی تاسی ته په لويه کميساری کی د مرکې لپاره

بلنه درکړل شي حتا که تاسی يی غوښتنه نه وي کړی 24

پريکړه 25

په لويه کميساری کی مصاحبه: دوه امکانه 26

اړيکی 30


د باسرپرسته ماشومانو لپاره لارښود

# سلام

تاسی ځکه دا رساله ترلاسه کوئ چی ستاسی مورااوپلار، یو له هغوی اویا ستاسی قانونی سرپرست په بلجیم کی د بین المللی حمایت غوښتنه کړی ده او تاسی د هغوی ملتیا کوئ. قانونی سرپرست یو داسی کس دی چی هغه ستاسی مور یا پلار نه دی خو ستاسی په اصلي هیواد کی مقاماتو ورته اجازه ورکړی ده چی له تاسی څخه مواظبت وکړي. په دی رساله کی مونږ دا روښانه کوو چې د حمایت دغه غوښتنه تاسی ته څه مانا لري. ستاسی موراوپلار اویا سرپرست به هم یوه داسی رساله ترلاسه کړي چې په هغه کی دا روښانه شوی ده چی د بین المللی حمایت لپاره د هغوی غوښتنه ستاسی لپاره د کومی مانا لرونکی ده.

غواړئ لا زیاد پوه شئ؟

تاسی به ددی رسالې خلاصه په لاندی ویب

پانه کی بیدا کړئ

[www.cgrs.be/en/asylum/children-asylum-procedure](www.cgrs.be/en/asylum/children-asylum-procedure)

دغه شان تاسی کولای شئ په بلجیم کی

د پناه غوښتنی د کړنلاری په اړوند

لازیات معلومات د لویی کمیسارۍ له


ویب پاڼی څخه هم ترلاسه کړئ.




د باسرپرسته ماشومانو لپاره لارښود


په دغه اسماني رنګه
بالون کی په زړه
پوري معلومات
ښودل شوی دي.

# طرزالعمل پناهندگی




منل شوی مهاجر
فرعی تحفظ
subsidiary protection
اپیل
پریکړه (ځواب)

# ۱

# د بین المللی حمایت لپاره غوښتنه څه شی ده؟



# د بین المللی حمایت لپاره غوښتنه څه شی ده؟

ستاسی موراوپلار یا سرپرست د بلجیم له حکومت څخه د حمایت غوښتنه کړی ده ځکه چی هغوی ستاسی په اصلی هیواد کی له جدي ستونزو سره مخامخ شوی او یا د جدي ستونزو په اړه ویره لري. له دی امله، ستاسی موراوپلار یا سرپرست داسی انګیری چی ستاسی اصلی هیواد ته بیرته تګ ورته ناممکن دی. ستاسی موراوپلار یا سرپرست خپله غوښتنه د مهاجرینو دفتر (IMMIGRATION OFFICE) ته وړاندی کړی ده. که چیری هغوی پخوا په کوم بل هیواد کی د حمایت غوښتنه نه وي کړی، د هغوی غوښتنه به د مهاجرینو او بی دولته اشخاصو د لویی کمیسارۍ له خوا، چی له دی وروسته به په لنډه توګه د لویی کمیسارۍ په نامه یادیږی، تر څیړنی لاندی ونیول شي. ستاسی له موراوپلار یا سرپرست څخه به وغوښتل شي چی په لویه کمیسارۍ کی د یوی شخصی انټرویو (مرکې) په ترڅ کې د خپلو ستونزو څرګندونه وکړی. دغه مرکه «د اوریدل کیدو د حق» یوه برخه شمیرل کیږی.

# 2

# کړنلاره کوم پړاوونه لري؟



# کډنلاره کوم پړاوونه لري؟

لومړی باید ستاسی موراوپلار یا سرپرست خپله اظهاریه (STATEMENT) دمهاجرینو اداری، هغه ځای ته چې تاسی ته یې دا رساله درکړې ده، وروسپاری. وروسته ترهغه لویه کمیساری ستاسی موراوپلار یا سرپرست ته د یوی شخصي مرکې بلنه ورکوي. ددغی مرکې په ترڅ کې به د لویې کمیسارۍ یو مؤظف کارکوونکی ستاسی له موراوپلار یا سرپرست څخه غوښتنه وکړي ترڅو څرګنده کړی چې ولی یی خپل هیواد پرېښی دی او ولی نشی کولی چې بیرته ستون شی. وروسته د لویی کمیسارۍ مؤظف کارکوونکی د بین-المللی حمایت لپاره د هغوی غوښتنه تر څیړنی لاندی نیسي. **ستاسو موراوپلار یا سرپرست داوخت ستاسی له ګټو څخه ددفاع لپاره** د **یوه غوره موقعیت لرونکی دی**. ددی مانا داده چې هغوی باید په لویه کمیسارۍ کی د خپلی شخصي مرکې په بهیر کی د هغو ستونزو، که چیری شتون ولری، څرګندونه هم وکړي چې تاسی په خپل اصلي هیواد کی ورسره مخامخ شوی یاست، اویا دا چې ولی تاسی بیرته خپل اصلی هیواد ته ستنیدلی نشۍ. لویه کمیساری د هغوی د څرګندونو پر بنسټ ستاسی، ستاسو د موروااوپلار اویا ستاسو د سرپرست په تړاو یوه واحده پریکړه کوی.


# څه ډول پریکړه؟

**بلجیم دوه ډوله حمایت ورکوي: د مهاجر (REFUGEE) موقف او د فرعي حمایت (SUBSIDIARY PROTECTION) موقف.**

3

# پناه غوښتونکي څوک دي؟





# پناه غوښتونکی په څه معنی دی؟

بلجیم «د مهاجرینو په هکله د ژنیو کنوانسیون» لاسلیک کړی دی. دغه کنوانسیون یو بین المللی تړون دی چی بلجیم مکلفوي ترڅو د هغو کسانو حمایت وکړي چی د خپل هیواد له مقاماتو او یا په خپل هیواد کی له نورو وګړو سره یی ستونزی او یا د ستونزو ویره لرلی وی. کیدی شی ستاسی ستونزی له لاندنیو عواملو سره تړاو ولري:




- ستاسی یا ستاسو د کورنۍ سیاسی نظریات؛
- ستاسی دین او مذهب؛
- ستاسی نژاد؛
- ستاسی تابعیت؛
- په کومه ځانګړی «ټولنیزه ډله» کی ستاسی غړیتوب. له ټولنیزی ډلی څخه زمونږ موخه له هغو کسانو څخه عبارت دی چی د یوی ګډی دایمی ځانګړتیا (کرکټرستیک) لرونکی وي. د همدغی ځانګړتیا د درلودلو په سبب ستاسی په هیواد کی ډیری وګړی له تاسی سره د خصومت له مخی چلند کوي. یوه داسی بیلګه له هغو نجونو څخه عبارت دی چی نشی کولی ښوونځی ته ولاړی شی، یوازی له دی امله چی نجونی دي.




# فرعی حمایت څه شی دی؟



که چیرې تاسې د خپل موقعیت له مخې د مهاجر موقف ترلاسه نکړی، لویه کمیساری به دا خبره وڅیړی چې آیا تاسې د فرعی حمایت مستحق یاست که نه.

که تاسې خپل اصلي هیواد ته په ستنیدو سره د کوم جدي زیان له خطر سره مخامخ کیدلی شۍ، لویه کمیساری به تاسې ته د فرعی حمایت موقف درکړي.





د جدي زیان بیلګی لاندینی حالات کیدلی شي:

- د مړینې یا اعدام سزا؛
- شکنجه یا غیرانسانی یا له سپکاوی ډک چلند؛
- د یوې نړیوالی جګړې یا د کورنۍ جګړې له امله ستاسې ژوندانه ته جدی ګواښ.

څه ډول پریکړه؟

- لویه کمیساری د بین المللی حمایت د غوښتنې تر څیړلو وروسته کولی شي پریکړه وکړي چې:
- د حمایت موقف ورکړي ؛
- د حمایت موقف رد کاندي.

# د یوه ماشوم په توګه په دې کړنلاره کې ستاسې حقوق کوم دي؟




ټول ماشومان ځانګړي حقوق لري چې «د ماشوم د حقوقو» په نامه يادېږي. ددې لپاره چې ماشومان وکړی شی د اړتیا په صورت کې له دغو حقوقو څخه برخمن شی، د ماشوم د حقوقو کنوانسیون تصویب شو. د بلجیم په ګډون د نړۍ ډېرو هیوادونو دغه کنوانسیون لاسلیک کړی او د هغه په تړاو یې ژمنه کړی ده چې له دغو حقوقو څخه د ماشومانو برخمن توب یقینی کاندی. د ماشوم له حقوقو څخه یو، د اوریدل کیدو حق دی. ددی مانا داده چې تاسې حق لرۍ د هرهغې مهمې پریکړې په تړاو چې په تاسې پورې اړه ولري، خپل نظر څرګند کړۍ. تاسې کولی شۍ په هره طریقه چې پخپله مو غوښتې وي، خپل نظر څرګند کړۍ: په شفاهې، لیکلی او یا کومه بله طریقه. **دا یو حق دی، مکلفیت نه دی.** له دې امله تاسې دې کار ته مجبور نه یاست.

**ستاسو موراوپلار یا ستاسو سرپرست ستاسی له ګټو څخه ددفاع لپاره په غوره موقعیت کې دی. تاسې، که مو غوښتې وی، یوازی خپل نظر څرګندوی. که تاسی غوره وګڼۍ چې د نظر څرکندونه ونکړۍ، دغه کار به ستاسو د موراوپلار یا سرپرست د پریکړې په تړاو کومې پایلې ونلري.**

که تاسی نه غواړۍ چې پخپله خپل نظر څرګند کړۍ، په هغه صورت کې له خپل موراوپلاریا سرپرست سره لویې کمیسلرۍ ته د هغوی د مرکې په مهال مه راځۍ.

4

# تاسو غواړئ خبرې وکړئ



# نظر څرګندول: دا کار څنګه ترسره کیږي؟

که تاسې غواړۍ چې خپل نظر څرګند کړۍ، باید لویې کمیسارۍ ته په دې هکله خبر ورکړۍ. بهتره ده چې دا کار د لیک یا ایمیل له لارې **په لویه کمیسارۍ کې ستاسو د موراوپلار یا سرپرست له شخصي مرکې څخه لږ ترلږه پینځه ورځې پخوا** ترسره شې. اړینه نده چې دا کار تاسې پخپله وکړۍ. تاسې کولې شۍ چې له خپل موراوپلار څخه غوښتنه وکړۍ چې درسره مرسته وکړي. دغه راز یو وکیل، یو ښوونکی، یو ټولنیز کارکوونکی، یو باوري شخص اویا کوم بل څوک کولی شي چې ستاسې له خوا د لویې کمیسارۍ د ماشومانو څانګې ته ټلیفون وکړي. د اړیکو ټول معلومات او د بیلګې په توګه یو لیک ددې رسالې په پای کې موندلې شۍ.

## کله چې غواړۍ خپل نظر څرګند کړئ، آیا همیشه مرکې ته بلل کیږئ؟

نه. د ساري په توګه، که لویه کمیسارۍ داسې وانګیري چې ستاسې عمر له هغه څه نه لږ دی چې وکړی شۍ پخپله د هغو لاملونوڅرګندونه وکړۍ چې تاسې یې د خپل هیواد پریښوولو ته اړایستلې یاست، په هغه صورت کې به تاسې په دې هکله یو لیک ترلاسه کړۍ. که چیرې لویه کمیسارۍ پریکړه وکړي چې له تاسې سره خبرې وکړي، په هغه صورت کې به هم تاسې یو لیک ترلاسه کړۍ چې پکې د لویې کمیسارۍ له مؤظف کارکوونکې سره ستاسې د خبرو د ځای او وخت څرګندونه کیږي. تاسې کولې شۍ چې دغه لیک خپل ښوونځي ته هم په نوموړي ورځ د خپلې ناسوبتیا د توجیه په موخه وښایاست.

تاسو غواړئ خبرې وکړئ

# د لویې کمیسارۍ له مؤظف کارکوونکی سره مرکه




**تاسی به په کوم ځای کې د لویې کمیسارۍ له مؤظف کارکوونکی سره خبری وکړۍ؟**

اساسا تاسی لویې کمیسارۍ ته د خپل مور او پلارملګرتوب کوۍ او هلته ترهغه مهاله چې د لویې کمیسارۍ مؤظف کارکوونکی ستاسی د موراوپلار یا سرپرست مرکه پای ته رسوي، تاسی د انتظار په خونه کې تم کیږۍ. ستاسی له موراوپلار څخه یو له تاسی سره پاتی کیږي په داسی حال چې ستاسی مور یا پلار د لویې کمیسارۍ مؤظف کارکوونکی ته خپله کیسه بیانوي. که چیرې تاسی په بلجیم کې یوازې له پلار یا مور یا له خپل سرپرست سره یاست، په هغه صورت کې کولی شۍ چې د انتظار په خونه کې یا هغه کوټې ته نږدې چې ستاسی د پلار یا مور یا سرپرست شخصی مصاحبه هلته ترسره کیږي، انتظار وباسۍ. له دې کبله چې ستاسو د پلار، مور یا سرپرست مرکه ممکن څو ساعته وخت ونیسي، بهتره ده چې داسی کوم څه له ځانه سره ولرۍ چې د انتظار په مهال ورسره ځان بوخت وساتلی شۍ.

## ستاسو د موراوپلار یا سرپرست تر مرکې وروسته




ستاسو د موراوپلار یا سرپرست تر مرکې وروسته ستاسی وار رارسیږی. مؤظف کارکوونکی تاسی د انتظار له خونی یا دهلیز څخه اخلی او له ځانه سره مو هغی کوټی ته بیایی چی مرکه پکښي ترسره کیږي. د خپلی مرکې په بهیر کې تاسی کولی شۍ په هره طریقه چی درته ممکنه وي دا ځرګنده کړۍ چی ولی مو خپل هیواد پریښی دی او ولی داسی فکر کوۍ چی بیرته خپل هیواد ته تللی نشۍ. تاسی کولی شۍ دا د خبرو له لاری ځرګنده کړۍ، کولی شۍ انځور رسم کړۍ او یا خپلی ستونزی د نانځکو (ناوکیو) په وسیله وښاياست. د لویی کمیساری مؤظف کارکوونکی به په ډیره ښه طریقه له تاسی سره مرسته وکړي چی د خپلی ستونزی یا ستونزو ځرګندونه وکړۍ.

کیدی شی په ندرت سره داسی وشی چی د لویی کمیساری له مؤظف کارکوونکی سره ستاسی مرکه ستاسی د موراوپلار یا سرپرست له مرکې سره له دی امله چی مثلا ستاسی نور ورونه او خویندی هم د خپل نظر د ځرګندولو غوښتونکی دی یا داچې ستاسو د موراوپلار یا سرپرست مصاحبه د ډیر وخت لپاره دوام کوي، په هماغه ورځ ترسره نشي. په دغه صورت کی به د لویی کمیساری مؤظف کارکوونکی په کومه بله ورځ ستاسی خبری واوری. تاسی به یو لیک ترلاسه کړۍ چی درته د هغی ورځی په هکله چی کولی شۍ د خپلو ستونزو په تړاو خبری وکړۍ، معلومات درکوی.

# د لويي کميسرای له مؤظف کارکوونکی سره ستاسو خبری په څه ډول ترسره کيږي؟

که څه هم امکان لري چې تاسی پخوا تردی چی د لويی کميسارۍ له مؤظف کارککونکی سره خبری وکړۍ، بايد يوڅه انتظار وباسۍ، خو دا خبری غالبا ډير وخت نه نيسي. خبری معمولا نيم ساعت دوام کوی. دا نورمال دی که تاسی يوڅه عصبی اوسۍ. مؤظف کارکوونکی به ستاسی خبرو ته غوږ کيږدی. تاسی هغه ته د هغه لامل يا لاملونو په تړاو چی تاسی يی د خپل هيواد پريښودلو ته اړايستلی ياست، هرڅه ويلی شۍ. که مو غوښتی وی، کولی شۍ چی له خبرو کولو نه ډډه وکړۍ. امکان لری چی مؤظف کارکوونکی د ټولو خبرو د روښانولو په موخه له تاسی څخه ځينی پوښتنی هم وکړي. ريښتينی اوسۍ او په هرڅه چی پوهيږۍ، بيان يی کړۍ. ښايی تاسی ونه کړای شۍ چی هرې پوښتنې ته ځواب ووایاست. که ځواب ورنکړی شۍ، فرق نه کوي. هغه خبری چې تاسی يی په لويه کميسارۍ کی کوۍ، ستاسی په هيواد کی هيچاته نه ويل کيږي.

## ستاسی په مرکه کی به څوک حاظر وي؟

**د لويی کميسارۍ له مؤظف کاروونکی** سره ستاسی د مرکې په مهال يو څوک ستاسی خبری ژباړي. دا کس ژباړونکی (ترجمان) دی چی د هغه په مرسته تاسی او د مؤظف کارکوونکی په سمه توګه يود بل په خبرو پوهيږۍ. ژباړونکی بی پری شخص دی. ددی مانا داده چی هغه نشی کولی هغه څه چی تاسی د خپلی مرکې په مهال مؤظف کارکوونکی ته څرګند کړی دی، ستاسی مورااوپلار او يا نورو کسانو ته ووايی. ژباړونکی په هغو پريکړو کی چی ستاسی، ستاسو د موراوپلار اويا سرپرست په اړه کيږي، هيڅ نقش نه لري. تاسی کولی شۍ **يو**




**داسی شخص چی ستاسی د باور وړ وي**، خپلی مرکې ته له ځانه سره بوځئ. دغه شخص باید یو داسی څوک وي چی **تاسی ورسره د هغه د کار په تړاو پیژندګلوی لرئ.** دغه کس کیدی شی د یو ښوونځی ښوونکی او یا یو ټولنیز کارکوونکی وي. په یاد ولرئ چی دغه شخص نشی کیدی چی ستاسی مور، پلار یا سرپرست وي. بهتره به وي چې وار له مخه په یوه لیک یا بریښنالیک (ایمیل) کی دا څرګنده کړئ چی څوک غواړئ مرکې ته بوځئ. ددغه کس د شتون موخه یوازی له تاسی سره مرسته اویا د ځینو ټکو درپه ګوته کول دی. د لویی کمیسارۍ مؤظف کارکوونکی کولی شی پریکړه وکړي چې نوموړی شخص له تاسی سره د مرستی لپاره مناسب ندی او په مرکه کې د ګډون لپاره اړین شرایط نلري. په دغه صورت کی به د لویی کمیسارۍ مؤظف کارکوونکی پریکړه وکړی چی نوموړی شخص ته ستاسی په مرکه کې د ګډون اجازه ورنکړي. دغه راز په یاد ولرئ چی کوم کس چی تاسی یی له ځانه سره راولئ، نشی کولی چی ستاسی په نامه د کوم مطلب څرګندونه وکړي، څکه دا تاسی یاست چی غواړئ خپله خبره وکړئ.

د لویی کمیسارۍ له مؤظف کارکوونکی سره ستاسی د خبرو په مهال باید یو وکیل ستاسی ملتیا وکړي. کیدی شی دا وکیل هماغه ستاسی د موراوپلار وکیل وی. ستاسی وکیل د وظیفوی اسرارو په ساتلو مکلف دی. هغه څه چی په اړه یی تاسی له هغه سره خبری کوئ، محرم ګڼل کیږي او هیڅا ته، حتا ستاسی موراوپلار ته ستاسی له اجازی پرته ویل کیدی نشي.

ستاسی باوری کس او وکیل کولی شي د مرکې په پای کې خپل نظر څرګند کاندي.

تاسو غواړئ خبرې وکړئ

## کوم شیان تربحث لاندې نیول کیږي؟

یوازې **ستاسې د موقعیت** په تړاو خبرې کیږي. د لویې کمیسارۍ له مؤظف کارکوونکې سره ستاسې د خبرو په مهال ستاسې د موراوپلار، ستاسې د سرپرست اویا ستاسې د نورو خپلوانو په ستونزو باندې خبرې نه کیږي، ځکه چې ستاسې موراوپلار یا سرپرست تردې وړاندې خپلې ستونزې د لویې کمیسارۍ مؤظف کارکوونکې ته حرګندې کړې دي. یوازینې موضوع چې ورباندې بحث کیږي، له هغه لامل یا لاملونو څخه عبارت دی چې تاسې ولې خپل هیواد پرېښې دی او ولې داسې فکر کوۍ چې بیرته خپل هیواد ته ستنیدلی نشۍ. مؤظف کارکوونکې ستاسې ټولې خبرې په کمپیوټرکې لیکې او بیایې ستاسې د موراوپلار اویا سرپرست په دوسیه کې وراچوي.

## آیا لویه کمیسارۍ تل ستاسو غوښتنو ته مثبت ځواب درکوي؟

نه. لویه کمیسارۍ باید د حمایت د یوه موقف په ورکړه کې قانونې قواعد او شرایط په پام کې ونیسي. د لویې کمیسارۍ مؤظف کارکوونکې ستاسې خبرې اورې او هغه ستونزې چې تاسې ورته څرګندې کړې دي، ترڅیړنې لاندې نیسي. مؤظف کاکوونکې د ټولو هغو معلوماتو پربنسټ چې ترلاسه کړې یې دي، یوه پریکړه لیکې. ستاسې د موراوپلار یا سرپرست څرګندونې د بین المللی حمایت لپاره ستاسې د غوښتنې د څیړلو لپاره ترټولو مهم عناصر ګڼل کیږي. ستاسو موراوپلار یا سرپرست ستاسې له ګټو څخه دفاع کوي او ستاسې ستونزې، که چیرې شتون ولري، څرګندوي. له دې امله دا امکان شته چې پریکړه د هغه څه په خلاف وي چې تاسې یې تمه درلوده.

تاسو غواړئ خبرې وکړئ

# د دوهمې مرکې امکان ليدل کېږي

امکان لري داسې پېښ شي چې هغه لاملونه چې ستاسې هيواد ته ستاسې د بيرته ستنيدو خنډ ګرځي، ستاسې د موراوپلار يا سرپرست **عين لاملونه نه وي**. دا يو ډير استثنايي حالت دی. که چيرې هغه حقايق چې تاسې ځرګند کړی دي، ډير جدي وګڼل شي، په هغه صورت کې کيدی شي چې تاسې ته د يوه ليک له لارې په لويه کميسارۍ کې د دوهمې مرکې لپاره بلنه درکړل شي. دا ځل هم ستاسو موراوپلار يا سرپرست **نشي کولی** چې په مرکه کې حاضر وي. په دوهمه مرکه کې به يو وکيل له تاسې سره مرسته کوي او تاسې کولی شئ چې يو باوري شخص له ځانه سره راولئ. **که چيرې ستاسې ځرګندونې ستاسو د موراوپلار له ځرګندونو سره سمون ونلري، دغه ځرګندونې نه ستاسې موراوپلار ته ويل کيږي او نه ستاسو د موراوپلار په خلاف کارل کيږي.** له دې امله تاسې کولی شئ چې په ازادۍ او ريښتينولۍ سره د هغه څه په هکله چې غوښتې مو وي، خبرې وکړئ. هرهغه څه چې تاسې پرې خبرې کوئ، محرم ساتل کيږي. وروسته بيا يوازې ستاسو وکيل کولی شي چې ستاسې ځرګندونې ولولي.

## امکان لري چې تاسی ته د لویی کمیسارۍ لخوا د مرکې لپاره بلنه درکړل شي حتا که تاسی یې غوښتنه هم نه وي کړي

امکان لري چې ستاسو د موراوپلار یا سرپرست تر مرکې وروسته لویه کمیسارۍ په استثنایي ډول پریکړه وکړي چې تاسی ته یو فرصت درکړی شی ترڅو د هغه څه په اړه چې ستاسی په هیواد کی پیښ شوی دی یا داچې تاسی ولی خپل هیواد ته بیرته ستنیدلی نشی، خبری وکړی. په دی صورت کی به تاسی یو لیک ترلاسه کړی چی درته په لویه کمیسارۍ کی د یوی مصاحبی لپاره بلنه درکوی. د مصاحبی په بهیر کی باید یو وکیل، او د اړتیا په صورت کی، یو باوری شخص له تاسی سره مرسته وکړی. ستاسی موراوپلار یا سرپرست کولی شی له تاسی سره لویی کمیسارۍ ته راشی، **مګر هغوی نشی کولی چی په مصاحبه کی ګډون وکړي.** تاسی ددغی بلنی په منلو مکلف نه یاست. که تاسی د مرکې د درلودلو غوښتونکی نه یاست، دا به ستاسو د موراوپلار یا سرپرست د پریکړی لپاره کومی پایلی ونلري.




لا زیات پوه شۍ؟

### د مرکې په اړه ټول معلومات

**تاسو کولی شئ په ویب پاڼه کې ومومئ:**

www.cgra.be/en/international-protection/interview

تاسو غواړئ خبرې وکړئ

# پریکړه

د لویې کمیسارۍ مؤظف کارکوونکی ستاسی، ستاسو د موراوپلار یا ستاسو د سرپرست د ځرګندونو په ګډون د ټولو معلوماتو له ترلاسه کولو ورسته پریکړه لیکي. دغه پریکړه کیدی شی ستاسی، ستاسو د موراوپلار یا ستاسو د سرپرست لپاره یوه واحده پریکړه وي. مګر تاسی کولی شې، په هغه صورت کې چې ستاسی په ګټه وي، یوه ځانګړی پریکړه ترلاسه کړې. که چیری تاسی، ستاسو موراوپلار یا سرپرست له پریکړی سره موافق نه یاست، کولی شې د هغی په وړاندی اپیل (استیناف غوښتنه) وکړې. بهتره ده چی په دی اړه له خپل وکیل سره خبری وکړې.




لا زیات
پوه شې؟

## د پریکړې په اړه ټول معلومات

**تاسو کولی شئ په ویب پاڼه کې وموئ:**

[www.cgra.be/en/international-protection/the-decision](www.cgra.be/en/international-protection/the-decision)

# په لویه کمیسارۍ کی مصاحبه: دوه امکانه

1

تاسی پخپله غواړۍ چې خبری وکړۍ



مکلفیت نشته

موراوپلار یا سرپرست په مرکه کې ګډون نلري

د کورنۍ لپاره واحده پریکړه

لنډی خبری اتری

د موراوپلار د څرګندونو سره له توپیر څخه کار نه اخیستل

مرسته کوونکی:

یو وکیل

د امکان په صورت کی یو باوری شخص

## 2

## په کمیسارۍ تاسی ته د یوی مرکې بلنه درکوي



مکلفیت نشته

موراوپلار یا سرپرست په مرکه کې ګډون نلري

عدم استفاده از اختلاف ها با اظهارات والدین

گفتگو طولانی تر، با موضوعات مورد نظر

د کورنۍ لپاره واحده پریکړه.
ځانګړی پریکړه په *

* په استثنایی ډول ممکنه ده

مرسته کوونکی:

یو وکیل

د امکان په صورت کی یو باوری شخص

# د اوریدلو لپاره نمونه غوښتنلیک



## په فرانسوي ژبه کې

**Demande d'un mineur accompagné à être entendu**

Cher Monsieur / Madame,

Mon nom est (nom de l'enfant) ....... je suis âgé de ....... ans.

Mon (mes) parent(s) ou tuteur est (sont) (nom parent/s ou tuteur): .........

Je suis venu en Belgique avec mon (mes) parent(s) ou mon tuteur. Nous vivions en/au (pays d'origine) ......................

Je voudrais vous faire part moi-même de ce que je considère comme important et de la raison pour laquelle nous ne pouvons pas retourner dans mon pays. Je sais qu'à cet effet je dois venir au CGRA.

S.P.- référence du (des) parent(s) ou du tuteur :

.................................................................



## په انګلیسي ژبه

### Request to be heard from an accompanied child

Dear Madam, Sir,

My name is (name of the child:) ....... and I am (age:) ....... years old.

My parent(s) or guardian is/are (name of parent/s or guardian): ............

I came to Belgium with my parent(s) or guardian.

We lived in (country of origin): ......................

I would like to tell you in person what I find important and why I cannot go back to my country. I know I have to go to the CGRS for this.

SP/OV number of parent(s) or guardian:

.................................................................



# اړیکی

## لویه کمیساری

The Office of the **Commissioner General for Refugees and Stateless Persons**

Rue Ernest Blerot 39

BRUSSELS 1070

ټلیفون: 11 51 205 2(0) 32+

فکس : 01 50 205 2(0) 32+

ایمیل : cgvs.info@ibz.fgov.be

ویب سایټ: www.cgvs.be

## د زیرسنو لپاره د لویې کمیسارۍ یونت

لویه کمیساری د زیرسنانو لپاره یو همغږه کوونکی )کوردیناتور( لری. کوردیناتور د بی ملة بهرنیو زیرسنانو د پناه دغوښتنی اړوند په ټولو مسایلو باندی پوهیږی. دی ټولی دغه شان غوښتنی له نږدی تعقیبوی. هغه سرپرستان چی د پناه غوښتنی د کړنلاری په تړاو پوښتنی یا کتنی لری، کولای شی د زیرسنانو له کوردیناتور سره اړیکی ونیسی.

إایمیل : CGRA-CGVS.Mineurs@ibz.fgov.be

ټلیفون: 06 53 205 2(0) 32+

فکس : 05 50 205 2(0) 32+

لویه کمیساری د مهاجرت د یوی خپلواکی اداری په توګه له زیاتو بلجیمی، اروپایی او نړیوالو پارټنرانو سره ورځنی اړیکی لری.

په دغه سایټ کی نور معلومات هم ولولی: www.cgrs.be/en/partners

غواړۍ چی د لویی
کمیسارۍ په اړه
زیات معلومات
ولرۍ؟

زمونږ ویب سایټ
ته مراجعه وکړۍ:
**www.cgrs.be**



OFFICE OF THE COMMISSIONER GENERAL FOR REFUGEES AND STATELESS PERSONS

Rue Ernest Blerot 39, 1070 BRUSSELS

cgrs.info@ibz.fgov.be T +32 2 205 51 11

www.cgrs.be F +32 2 205 50 01

Towards a more integrated migration policy, made possible by the AMIF